# النمل

**مکی سورة دی ۹۳ آیتونه لری**

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

طسٓۚ تِلۡكَ ءَايَٰتُ ٱلۡقُرۡءَانِ وَكِتَابٖ مُّبِينٍ ﴿١﴾

**طا- سین( په اصل معنی یې الله تعالی او رسول صلی الله علیه وسلم ښه پوهیږی). دا د(باعظمته) قرآن او روښانه بیانوونکی کتاب آیتونه دی.**

هُدٗى وَبُشۡرَىٰ لِلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿٢﴾

**( هغه قرآن چې د ټولو بشری پرګنو لپاره) لاربښود، او د مؤمنانو لپاره( د جنت او تلپاتې نعمتونو) زیری ورکوونکی دی.**

ٱلَّذِينَ يُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَيُؤۡتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ وَهُم بِٱلۡأٓخِرَةِ هُمۡ

يُوقِنُونَ ﴿٣﴾

**هغه مؤمنان چې( د ټولو حقوقو په رعایت کولو سره) لمونځونه قایموی،( د خپلو مالونو) زکاتونه ورکوی، او د آخرت په راتلو کامل ایمان لری.**

إِنَّ ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡأٓخِرَةِ زَيَّنَّا لَهُمۡ أَعۡمَٰلَهُمۡ فَهُمۡ يَعۡمَهُونَ ﴿٤﴾

**بې له شکه، مونږ د آخرت منکرینو ته، د دوی ناوړه او قبیحه اعمال په نظر کې ښه ورځلولی، ځکه خو(هغوی پخپلو مفاسدو کې) لالهانده دی.**

أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ لَهُمۡ سُوٓءُ ٱلۡعَذَابِ وَهُمۡ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ هُمُ ٱلۡأَخۡسَرُونَ ﴿٥﴾

**دا هغه کسان دی چې (په دنیا کې یې) سخت عذاب په برخه او په آخرت کې به تر ټولو زیانمن وی.**

وَإِنَّكَ لَتُلَقَّى ٱلۡقُرۡءَانَ مِن لَّدُنۡ حَكِيمٍ عَلِيمٍ ﴿٦﴾

**( ای پیغمبره!) بیشکه چې دا قرآن، د یوه حکیم او علیم ذات( الله تعالی) له لوری تاته درزده کیږی.**

إِذۡ قَالَ مُوسَىٰ لِأَهۡلِهِۦٓ إِنِّيٓ ءَانَسۡتُ نَارٗا سَـَٔاتِيكُم مِّنۡهَا بِخَبَرٍ أَوۡ ءَاتِيكُم بِشِهَابٖ قَبَسٖ لَّعَلَّكُمۡ تَصۡطَلُونَ ﴿٧﴾

**( خلکو ته هغه واقعه واوروه) کله چې موسی( له مدین نه مصر ته د تګ په لاره، د يوې يخې شپې په تربږمۍ کې) خپلې کورنۍ ته وویل: زه( د طور د غره له لوری) یوه د اور لمبه وینم، ( لاړ به شم) یا به د لارې په باب څه معلومات واخلم او یا به د اور لمبه او سکروټه راوړم چې تاسو وربانديې ځانونه تاوده کړئ.**

فَلَمَّا جَآءَهَا نُودِيَ أَنۢ بُورِكَ مَن فِي ٱلنَّارِ وَمَنۡ حَوۡلَهَا وَسُبۡحَٰنَ ٱللَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٨﴾

**کله چې د اور سیمې ته ورسید( یوه شو چې دا دنیوی اور نه، بلکه د الله تعالی د ذات د نور هغه تجلی ده چې د « حجابه النور» په نوم یادیږی) غږ ورباندې وشو: مبارک دی هغه چې په اور( نور) کې دی( یعنی د الله تعالی د نور تجلی او د قدرت آثار)او مبارک دی هغه ذوات چې په شاوخوا چاپیریال کې دی( یعنې موسی چې د الهی وحې د اخستلو لپاره راغوښتل شوی او پرښتې). او کاملاً پاک او منزه دی د کائناتو ستر رب الله تعالی( د مکان، مادیت او جنسیت له حدودو او په کوم شی کې د حلول او ظهور له نسبتونو څخه).**

يَٰمُوسَىٰٓ إِنَّهُۥٓ أَنَا ٱللَّهُ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ﴿٩﴾

**ای موسی بیشکه همدا زه یم الله تعالی( پخپلو تولو احکامو او اقداماتو) برلاسی او د حکمت څښتن.**

وَأَلۡقِ عَصَاكَۚ فَلَمَّا رَءَاهَا تَهۡتَزُّ كَأَنَّهَا جَآنّٞ وَلَّىٰ مُدۡبِرٗا وَلَمۡ يُعَقِّبۡۚ يَٰمُوسَىٰ لَا تَخَفۡ إِنِّي لَا يَخَافُ لَدَيَّ ٱلۡمُرۡسَلُونَ ﴿١٠﴾

**او وغورځوه خپله امسا. نو موسی چې ولیدل، امسا یې د یوه نری چټک مار په شان خوځیږی، داسې ترې په شا لاړ، چې بیرته یې نه کتل.( غږ ورباندې وشو): ای موسی مه ویریږه ځکه د پیغمبرانو لپاره( د خپل لوړ مقام او عصمت په اساس) زما په حضور کې هیڅ ویره او ترهه نشته.**

إِلَّا مَن ظَلَمَ ثُمَّ بَدَّلَ حُسۡنَۢا بَعۡدَ سُوٓءٖ فَإِنِّي غَفُورٞ رَّحِيمٞ ﴿١١﴾

**(خو هغه کسان باید وویریږی چې) د تیری او ګناه مرتکب شوی وی، البته هغوی هم که له ګناه نه وروسته نیکۍ ته مخه کړی( ایمان راوړی او نیک عملونه وکړی زما له عذابه په امن دی ځکه) زه ډیر زیات ښښونکی او مهربان یم.**

وَأَدْخِلْ يَدَكَ فِى جَيْبِكَ تَخْرُجْ بَيْضَآءَ مِنْ غَيْرِ سُوٓءٍ ۖ فِى تِسْعِ ءَايَٰتٍ إِلَىٰ
فِرْعَوْنَ وَقَوْمِهِۦٓ ۚ إِنَّهُمْ كَانُوا۟ قَوْمًا فَٰسِقِينَ ١٢

او لاس دې پخپل ګریوان ننه باسه روغ رمټ او سپین ځلیدلی به یې راوباسی( له دې دوو معجزو سره)چې په نهو معجزو کې شامل دی، فرعون او د هغه قوم ته ورشه،چې سرکښه او باغیان دی.

فَلَمَّا جَآءَتْهُمْ ءَايَٰتُنَا مُبْصِرَةً قَالُوا۟ هَٰذَا سِحْرٌ مُّبِينٌ ١٣

کله چې زمونږ روښانه معجزې فرعونیانو ته وړاندې شوې، ویې ویل: دا خو ښکاره کوم جادو دی.

وَجَحَدُوا۟ بِهَا وَٱسْتَيْقَنَتْهَآ أَنفُسُهُمْ ظُلْمًا وَعُلُوًّا ۚ فَٱنظُرْ كَيْفَ كَانَ
عَٰقِبَةُ ٱلْمُفْسِدِينَ ١٤

سره له دې چې( فرعونیان) د الهی معجزو په حقانیت ښه پوهیدل، خو د ظلم او تکبر له امله یې ترې انکار وکړ، نو وګوره چې د مفسدینو انجام او عاقبت څنګه و؟

وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا دَاوُۥدَ وَسُلَيْمَٰنَ عِلْمًا ۖ وَقَالَا ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ٱلَّذِى فَضَّلَنَا عَلَىٰ
كَثِيرٍ مِّنْ عِبَادِهِ ٱلْمُؤْمِنِينَ ١٥

او یقیناً چې مونږ داود او سلیمان ته( په شرعی احکامو، قضاوت او عدالت او د مارغانو په ژبو  او نورو علومو کې) یوه ځانګړې پوهه ورکړې وه، او دواړو به ویل: د ټولو ستاینو وړ دی الله تعالی چې مونږ ته یې پخپلو ډیرو مؤمنو بندګانو برتری او امتیاز راکړی دی.

وَوَرِثَ سُلَيْمَٰنُ دَاوُۥدَ ۖ وَقَالَ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ عُلِّمْنَا مَنطِقَ ٱلطَّيْرِ وَأُوتِينَا
مِن كُلِّ شَىْءٍ ۖ إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ ٱلْفَضْلُ ٱلْمُبِينُ ١٦

او سلیمان( په نبوت، علم او سلطنت کې د خپل پلار) داود وارث او ځای ناستی شو، او ویې ویل: ای خلکو! مونږ ته د مارغانو ژبه رازده کړی شوی او نور هر ډول امتیازات هم راکړی شوی( چې پیغمبرانو او پادشاهانو ته ورکړی شوی وو)، بیشکه چې دا د الله تعالی یو څرګند فضل دی.

وَحُشِرَ لِسُلَيْمَٰنَ جُنُودُهُۥ مِنَ ٱلْجِنِّ وَٱلْإِنسِ وَٱلطَّيْرِ فَهُمْ يُوزَعُونَ ١٧

او سلیمان ته د پیریانو، انسانانو او مارغانو لښکرې په منظمو دستو او صفونو راوستل شوې.

حَتَّىٰٓ إِذَآ أَتَوۡاْ عَلَىٰ وَادِ ٱلنَّمۡلِ قَالَتۡ نَمۡلَةٞ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّمۡلُ ٱدۡخُلُواْ

مَسَٰكِنَكُمۡ لَا يَحۡطِمَنَّكُمۡ سُلَيۡمَٰنُ وَجُنُودُهُۥ وَهُمۡ لَا يَشۡعُرُونَ ١٨

( نو کله چې ټولې لښکرې په یوه سفر رواني شوې) د لارې په اوږدو کې د میږیانو په یوه دره ور برابرې شوې، یوه میږی( د میږیانو ملکې) اعلان وکړ: ای میږیانو! خپلو کورونو ته ننوزئ هسې نه چې سلیمان او د هغه لښکرې مو په بې فکرۍ سره (تر پښو لاندې) چیت پیت کړی.

فَتَبَسَّمَ ضَاحِكٗا مِّن قَوۡلِهَا وَقَالَ رَبِّ أَوۡزِعۡنِيٓ أَنۡ أَشۡكُرَ نِعۡمَتَكَ

ٱلَّتِيٓ أَنۡعَمۡتَ عَلَيَّ وَعَلَىٰ وَٰلِدَيَّ وَأَنۡ أَعۡمَلَ صَٰلِحٗا تَرۡضَىٰهُ وَأَدۡخِلۡنِي

بِرَحۡمَتِكَ فِي عِبَادِكَ ٱلصَّٰلِحِينَ ١٩

سلیمان په دغه اعلان مسکی شو، او ویې ویل: ای ربه ماته هدایت او توفیق راکړه تر څو د هغه نعمت شکریه په ځای کړم چې په ما او زما په مور او پلار دې لورولی، او د هغو اعمالو همت راکړه چې ستا د خوښۍ او رضا وړ وی، او د خپلې مهربانۍ له مخې مې پخپلو نیکو بندګانو کې داخل کړه.

وَتَفَقَّدَ ٱلطَّيۡرَ فَقَالَ مَالِيَ لَآ أَرَى ٱلۡهُدۡهُدَ أَمۡ كَانَ مِنَ

ٱلۡغَآئِبِينَ ٢٠

او (سلیمان) د مارغانو د قطعاتو د پلټنې په ترڅ کې پوښتنه وکړه: هدهد(ملاچرګک) ولې نه وینم؟ که غیر حاضر دی؟

لَأُعَذِّبَنَّهُۥ عَذَابٗا شَدِيدًا أَوۡ لَأَاْذۡبَحَنَّهُۥٓ أَوۡ لَيَأۡتِيَنِّي بِسُلۡطَٰنٖ

مُّبِينٖ ٢١

که( د خپل غیابت لپاره) معقول عذر وړاندې نه کړی، سخته سزا به ورکړم او یا به یې( د نورو د عبرت لپاره) حلال کړم.

فَمَكَثَ غَيْرَ بَعِيدٍ فَقَالَ أَحَطتُ بِمَا لَمْ تُحِطْ بِهِۦ وَجِئْتُكَ مِن
سَبَإٍۭ بِنَبَإٍ يَقِينٍ ﴿٢٢﴾

شیبه لا نه وه تیره چې ملا چرګک راورسید او( سلیمان ته یې) وویل: هغه څه مې کشف کړی چې ته لا وربانديې خبر هم نه یې، او د سبا ( هیواد) نه مې ډیر مهم او موثق معلومات درته راوړی دی.

إِنِّي وَجَدتُّ ٱمْرَأَةً تَمْلِكُهُمْ وَأُوتِيَتْ مِن كُلِّ شَيْءٍ وَلَهَا عَرْشٌ
عَظِيمٌ ﴿٢٣﴾

ما یوه ښځه وموندہ چې( د سبا په خلکو) حکومت کوی( او د حکومت او قدرت) ټول تسهیلات ورته برابر شوی او یو لوی تخت هم لری.

وَجَدتُّهَا وَقَوْمَهَا يَسْجُدُونَ لِلشَّمْسِ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَزَيَّنَ لَهُمُ
ٱلشَّيْطَٰنُ أَعْمَٰلَهُمْ فَصَدَّهُمْ عَنِ ٱلسَّبِيلِ فَهُمْ لَا يَهْتَدُونَ ﴿٢٤﴾

دا هم راته معلومه شوه چې هغه او قوم یې د الله تعالی په ځای، لمر ته سجده کوی،او شیطان ورته د دوی(ناوړه) اعمال ښه ښکاره کړی، او د حق له لارې یې اړولی، چې له همدې امله د هدایت نه بې برخی دی.

أَلَّا يَسْجُدُوا۟ لِلَّهِ ٱلَّذِى يُخْرِجُ ٱلْخَبْءَ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَيَعْلَمُ مَا
تُخْفُونَ وَمَا تُعْلِنُونَ ﴿٢٥﴾

( او شیطان هغوی ته دا درس ورکړی چې) الله تعالی ته سجده مه کوی، هغه ذات چې د آسمانونو او ځمکي پټ اسرار رابرڅیره کوی، او ستاسو په ټولو پټو او ښکاره کړنو ډیر ښه خبر دی.

ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ رَبُّ ٱلْعَرْشِ ٱلْعَظِيمِ ۩ ﴿٢٦﴾

الله تعالی،(واحد ذات) چې له هغه نه غیر بل خدای نشته، د عظیم عرش څښتن دی.

۞ قَالَ سَنَنظُرُ أَصَدَقْتَ أَمْ كُنتَ مِنَ ٱلْكَٰذِبِينَ ﴿٢٧﴾

(سلیمان هدهد ته) وویل: وبه ګورو چې رښتیا وایې که دروغ؟( سلیمان یو لیک ولیکه او ملا چرګک ته یې وویل):

ٱذۡهَب بِّكِتَٰبِي هَٰذَا فَأَلۡقِهۡ إِلَيۡهِمۡ ثُمَّ تَوَلَّ عَنۡهُمۡ فَٱنظُرۡ مَاذَا
يَرۡجِعُونَ ﴿٢٨﴾

زما دا لیک یوسه او هغوی ته یې وغورځوه، او بیا ترې( د سلطنت د آدابو د رعایت لپاره) ګوښه شه، وګوره چې غبرګون یې څه دی؟

قَالَتۡ يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡمَلَؤُاْ إِنِّيٓ أُلۡقِيَ إِلَيَّ كِتَٰبٞ كَرِيمٌ ﴿٢٩﴾

( د سبا ملکې د لیک له لوستلو وروسته) وویل: ای مشرانو او اشرافو! ما ته یو ډیر ارزښتناک لیک راغورځیدلی دی.

إِنَّهُۥ مِن سُلَيۡمَٰنَ وَإِنَّهُۥ بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ﴿٣٠﴾

دا د سلیمان له لوری او په بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ پیل شوی دی.

أَلَّا تَعۡلُواْ عَلَيَّ وَأۡتُونِي مُسۡلِمِينَ ﴿٣١﴾

( او مضمون یې دا دی چې:) خپل ځانونه په ما لوړ او برتر مه ګڼئ او( الهی احکامو ته د غاړه ایښودونکو) مسلمانانو په حیث ما ته راشئ.

قَالَتۡ يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡمَلَؤُاْ أَفۡتُونِي فِيٓ أَمۡرِي مَا كُنتُ قَاطِعَةً أَمۡرًا حَتَّىٰ
تَشۡهَدُونِ ﴿٣٢﴾

( بیا یې) وویل: ای مشرانو او اشرافو! په دې مسأله کې ماته مشوره راکړئ، زه ستاسو له جرګې او مشورې نه غیر، هیڅ فیصله نه کوم.

قَالُواْ نَحۡنُ أُوْلُواْ قُوَّةٖ وَأُوْلُواْ بَأۡسٖ شَدِيدٖ وَٱلۡأَمۡرُ إِلَيۡكِ فَٱنظُرِي مَاذَا
تَأۡمُرِينَ ﴿٣٣﴾

هغوی وویل: مونږ جنګی او پیاوړی قواوې لرو، او د جګړې قومانده ستا په لاس کې ده،په هر امر چې غور او فکر کوی مونږ ته د تعمیل وړ دی.

قَالَتۡ إِنَّ ٱلۡمُلُوكَ إِذَا دَخَلُواْ قَرۡيَةً أَفۡسَدُوهَا وَجَعَلُوٓاْ أَعِزَّةَ أَهۡلِهَآ أَذِلَّةٗۚ وَكَذَٰلِكَ يَفۡعَلُونَ ﴿٣٤﴾

ملکې وویل: پادشاهان چې( له مسلحو لښکرو سره) کوم ښار ته ننوزی، نو هلته تباهی او فساد خپروی، او د عزت او وقار خلک پکې سپک او بې عزته کوی، او همدغه یې عادت او پالیسی ده.

وَإِنِّي مُرۡسِلَةٌ إِلَيۡهِم بِهَدِيَّةٖ فَنَاظِرَةُۢ بِمَ يَرۡجِعُ ٱلۡمُرۡسَلُونَ ﴿٣٥﴾

او زه به یو (ډیر ښه او غوره) سوغات، هغوی ته ورواستوم، او انتظار به وکړم چې استازی مې څه ځواب راوړی( که سلیمان پادشاه وی نو په سوغات به خوشاله او مونږ به یې له حملې نه په امن کې پاتې شو، خو که پیغمبر وی نو بیا ورته سوغات اهمیت نه لری، بلکه اصلی هدف به یې د دین لوری ته دعوت وی).

فَلَمَّا جَآءَ سُلَيۡمَٰنَ قَالَ أَتُمِدُّونَنِ بِمَالٖ فَمَآ ءَاتَىٰنِۦَ ٱللَّهُ خَيۡرٞ مِّمَّآ ءَاتَىٰكُم بَلۡ أَنتُم بِهَدِيَّتِكُمۡ تَفۡرَحُونَ ﴿٣٦﴾

کله چې ( د ملکې استازی) سلیمان ته راغی،( سلیمان) وویل: آیا په دې( لږ او بې ارزښته) مال سره زما مرسته کوی؟ ماته چې الله تعالی( نبوت، حکمت، بې مثاله سلطنت او قدرت) راکړی، له هغه څه نه ډیر زیات او غوره دی چې تاسو ته درکړی شوی( ستاسو سوغات زما لپاره د خوښۍ وړ، نه دی) بلکه دا تاسو یاست چې د خپل سوغات په ورکړه فخر او خوشالی کوی.

ٱرۡجِعۡ إِلَيۡهِمۡ فَلَنَأۡتِيَنَّهُم بِجُنُودٖ لَّا قِبَلَ لَهُم بِهَا وَلَنُخۡرِجَنَّهُم مِّنۡهَآ أَذِلَّةٗ وَهُمۡ صَٰغِرُونَ ﴿٣٧﴾

بیرته هغوی ته وګرځه( او ورته ووایه چې د مسلمانانو په حیث راشی که نه) مونږ به د یوه نه ماتیدونکی نظامی قوت سره په هغوی باندې ورشو، او خوار او ذلیل به یې د « سبا له ښاره» وباسو.

قَالَ يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡمَلَؤُاْ أَيُّكُمۡ يَأۡتِينِي بِعَرۡشِهَا قَبۡلَ أَن يَأۡتُونِي مُسۡلِمِينَ ﴿٣٨﴾

سلیمان وویل: ای مشرانو او اشرافو! مخکې له دې چې هغوی تسلیم شوی ماته راشی، په تاسو کې به څوک د هغې تخت ماته راوړی؟

قَالَ عِفۡرِيتٞ مِّنَ ٱلۡجِنِّ أَنَا۠ ءَاتِيكَ بِهِۦ قَبۡلَ أَن تَقُومَ مِن مَّقَامِكَۖ وَإِنِّي عَلَيۡهِ
لَقَوِيٌّ أَمِينٞ ٣٩

یوه چالاک او پیاوړی پیری وویل: وړاندې له دې چې ته( خپل د نن ورځې عمومي دربار پای ته ورسوې او)له خپل مسند نه پورته شې، زه به د هغې تخت تاته راوړم او زه د دغه کار لپاره پیاوړی او امانتدار یم.

قَالَ ٱلَّذِي عِندَهُۥ عِلۡمٞ مِّنَ ٱلۡكِتَٰبِ أَنَا۠ ءَاتِيكَ بِهِۦ قَبۡلَ أَن يَرۡتَدَّ إِلَيۡكَ طَرۡفُكَۚ
فَلَمَّا رَءَاهُ مُسۡتَقِرًّا عِندَهُۥ قَالَ هَٰذَا مِن فَضۡلِ رَبِّي لِيَبۡلُوَنِيٓ ءَأَشۡكُرُ أَمۡ
أَكۡفُرُۖ وَمَن شَكَرَ فَإِنَّمَا يَشۡكُرُ لِنَفۡسِهِۦۖ وَمَن كَفَرَ فَإِنَّ رَبِّي غَنِيّٞ كَرِيمٞ ٤٠

خو هغه شخصیت چې د کتاب علم ورسره و، وویل: زه به دغه( تخت) د سترګو په رپ کې ستا مخې ته کېږدم( او هغه یې په هماغه شیبه کې ورته په وړاندې کېښود). سلیمان چې د ملکې تخت خپلې مخې ته ولید، ویې ویل: دا زما د رب فضل او احسان دی، تر څو ما وازمایي چې شکر کوونکی یم که ناشکره. او څوک چې شکر په ځای کړي خپله ګټه یې ده او څوک چې ناشکري وکړي( الله تعالی ته کوم زیان نشي رسولی) ځکه زما رب بې نیازه او د سخاوت خاوند دی.

قَالَ نَكِّرُواْ لَهَا عَرۡشَهَا نَنظُرۡ أَتَهۡتَدِيٓ أَمۡ تَكُونُ مِنَ ٱلَّذِينَ لَا يَهۡتَدُونَ ٤١

سلیمان امر وکړ چې د تخت( شکل او وضعیت یې ورته) رد او بدل کړئ، ترڅو وګورو چې (په ملکه کې) د پند او هدایت استعداد شته که نه.

فَلَمَّا جَآءَتۡ قِيلَ أَهَٰكَذَا عَرۡشُكِۖ قَالَتۡ كَأَنَّهُۥ هُوَۚ وَأُوتِينَا ٱلۡعِلۡمَ مِن قَبۡلِهَا وَكُنَّا
مُسۡلِمِينَ ٤٢

نو کله چې ملکه راغله، ورته پوښتنه وشوه: آیا ستا تخت همدا ډول دی؟ هغې وویل: لکه چې پخپله همدا دی، او مونږ ته( د لیک له رارسیدو) وړاندې( د الله تعالی د وحدانیت او د سلیمان د نبوت او قدرت) علم راکړی شوی او ځکه مو ورته اطاعت او انقیاد اعلان کړی دی.

وَصَدَّهَا مَا كَانَت تَّعۡبُدُ مِن دُونِ ٱللَّهِۖ إِنَّهَا كَانَتۡ مِن قَوۡمٖ كَٰفِرِينَ ٤٣

( او په دې توګه ملکه) د لمر له عبادت نه راوګرځول شوه، بیشکه چې هغه پخوا د کافرانو په ډله کې شامله وه.

قِيلَ لَهَا ٱدْخُلِى ٱلصَّرْحَ ۖ فَلَمَّا رَأَتْهُ حَسِبَتْهُ لُجَّةً وَكَشَفَتْ عَن سَاقَيْهَا ۚ قَالَ
إِنَّهُۥ صَرْحٌ مُّمَرَّدٌ مِّن قَوَارِيرَ ۗ قَالَتْ رَبِّ إِنِّى ظَلَمْتُ نَفْسِى
وَأَسْلَمْتُ مَعَ سُلَيْمَـٰنَ لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَـٰلَمِينَ ﴿٤٤﴾

ورته وویل شول چې ماڼۍ ته ننوځه او کله چې یې د قصر صحن ولید د ژورو اوبو ګومان یې وربانديې وکړ، او د پورې وتو لپاره یې له دواړو پنډیو پاینڅې راپورته کړی.( سلیمان) وویل:( دا اوبه نه دی بلکه) د ښیښې روڼ هوار فرش دی( او په دې توګه یې ملکه تنبیه کړه چې د لمر او ستورو په ځلا تیر وتل او هغو ته د الوهیت درجه ورکول، هم همداسې وګڼه). ملکې وویل: ای زما ربه! بیشکه چې ما پخوا په ځان ظلم کړی او اوس مې له سلیمان سره د الله رب العالمین( فرامینو او احکامو ته) غاړه ایښی ده.

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَآ إِلَىٰ ثَمُودَ أَخَاهُمْ صَـٰلِحًا أَنِ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ فَإِذَا هُمْ
فَرِيقَانِ يَخْتَصِمُونَ ﴿٤٥﴾

او ثمودیانو ته مو د هغوی( قومی) ورور صالح( له دې پیغام سره) ورواستاوه چې د الله تعالی عبادت وکړئ، خو هغوی په دوو ډلو( مؤمنانو او کافرانو) وویشل شول، او یو له بل سره په جګړو اخته شول.

قَالَ يَـٰقَوْمِ لِمَ تَسْتَعْجِلُونَ بِٱلسَّيِّئَةِ قَبْلَ ٱلْحَسَنَةِ ۖ لَوْلَا
تَسْتَغْفِرُونَ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴿٤٦﴾

هغه وویل: ای زما قومه! ولې د نیکۍ په ځای بدۍ ته په تلوار وړاندې کیږئ؟ ولې له الله تعالی نه بښنه نه غواړئ چې رحم دربانديې وکړی؟

قَالُوا۟ ٱطَّيَّرْنَا بِكَ وَبِمَن مَّعَكَ ۚ قَالَ طَـٰٓئِرُكُمْ عِندَ ٱللَّهِ ۖ بَلْ أَنتُمْ قَوْمٌ
تُفْتَنُونَ ﴿٤٧﴾

د قوم خلکو وويل: ته او ستا ملګري مو په بد فال نيولي ياست( چې مونږ ته مو ستونزې او بدبختئ راولاړې کړي دي). صالح ورته وويل:( ستاسو بدبختئ په ما پورې اړه نه لري) بلکه تاسو د الله تعالی له خوا د همدغو کړاوونو او مصيبتونو په وسيله ازمويل کيږئ( تر څو توبه وباسئ او ايمان راوړئ).

وَكَانَ فِي ٱلْمَدِينَةِ تِسْعَةُ رَهْطٍ يُفْسِدُونَ فِي ٱلْأَرْضِ وَلَا يُصْلِحُونَ ﴿٤٨﴾

او په ښار کې نهه تنه سرداران او اشراف وو، چې د فساد او تخريب بازار يې تود کړی و، او هيڅ اصلاحی قدم يې نه پورته کاوه.

قَالُوا۟ تَقَاسَمُوا۟ بِٱللَّهِ لَنُبَيِّتَنَّهُۥ وَأَهْلَهُۥ ثُمَّ لَنَقُولَنَّ لِوَلِيِّهِۦ مَا شَهِدْنَا مَهْلِكَ أَهْلِهِۦ وَإِنَّا لَصَٰدِقُونَ ﴿٤٩﴾

( هغوی يو بل ته وويل:) په الله قسم وکړئ چې يوه شپه به په صالح او د هغه په کورنئ يرغل کوو( او له يوې مخې به يې له تيغه تيروو) او بيا به يې وارثانو ته ووايو چې مونږ يې د کورنئ په قتل کې هيڅ لاس نه لرو او پخپله دې خبره کې رښتينی يو.

وَمَكَرُوا۟ مَكْرًا وَمَكَرْنَا مَكْرًا وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴿٥٠﴾

او هغوی يوه سخته دسيسه جوړه کړې وه، خو خبر نه وو، چې مونږ هم ورته د سختې سزا د ورکولو لپاره تدبير نيولی دی.

فَٱنظُرْ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ مَكْرِهِمْ أَنَّا دَمَّرْنَٰهُمْ وَقَوْمَهُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٥١﴾

نو وګوره چې د دسيسې عاقبت يې څنګه و، هغوی مو له ټول قوم سره تباه او برباد کړل.

فَتِلْكَ بُيُوتُهُمْ خَاوِيَةًۢ بِمَا ظَلَمُوٓا۟ ۗ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَءَايَةً لِّقَوْمٍ يَعْلَمُونَ ﴿٥٢﴾

دا يې کورونه دي چې د خپل ظلم له امله ترې خالي( او وران ويجاړ) پاتې دي. بيشکه چې په دې داستان کې د پوهې او معرفت د خاوندانو لپاره د عبرت لوی درس پروت دی.

وَأَنجَيۡنَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَكَانُواْ يَتَّقُونَ ٥٣

او مؤمنان او پرهيزګاران مو روغ رمټ وژغورل.

وَلُوطًا إِذۡ قَالَ لِقَوۡمِهِۦٓ أَتَأۡتُونَ ٱلۡفَٰحِشَةَ وَأَنتُمۡ تُبۡصِرُونَ ٥٤

او د لوط( داستان خلكو ته واوروه) چې خپل قوم ته يې وويل: آيا قصداً او په رڼو سترګو فحشاو ته لاس اچوئ؟

أَئِنَّكُمۡ لَتَأۡتُونَ ٱلرِّجَالَ شَهۡوَةٗ مِّن دُونِ ٱلنِّسَآءِۚ بَلۡ أَنتُمۡ قَوۡمٞ تَجۡهَلُونَ ٥٥

آيا تاسو د ښځو په ځای، له نارينه و سره جنسی اړيکې ساتئ؟ دا خو ستاسو د جهالت ډير ښه ثبوت دی.

۞ فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوۡمِهِۦٓ إِلَّآ أَن قَالُوٓاْ أَخۡرِجُوٓاْ ءَالَ لُوطٖ مِّن قَرۡيَتِكُمۡۖ إِنَّهُمۡ أُنَاسٞ يَتَطَهَّرُونَ ٥٦

د قوم غوڅ ځواب يې دا و چې د لوط خيلخانه د( سدوم) له ښاره وباسئ ځكه هغوی ځانونه پاكان ګڼي.

فَأَنجَيۡنَٰهُ وَأَهۡلَهُۥٓ إِلَّا ٱمۡرَأَتَهُۥ قَدَّرۡنَٰهَا مِنَ ٱلۡغَٰبِرِينَ ٥٧

نو مونږ هغه او د كورنئ ټول غړی يې روغ رمټ وژغورل،خو ښځه يې چې په هلاكت محكومه شوې وه له ښاريانو سره پاتې شوه.

وَأَمۡطَرۡنَا عَلَيۡهِم مَّطَرٗاۖ فَسَآءَ مَطَرُ ٱلۡمُنذَرِينَ ٥٨

او په هغوی باندې مو( د تيږو) باران ووراوه، ډير بد باران و، د ويرول شويو خلكو لپاره.

قُلِ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ وَسَلَٰمٌ عَلَىٰ عِبَادِهِ ٱلَّذِينَ ٱصۡطَفَىٰٓۗ ءَآللَّهُ خَيۡرٌ أَمَّا يُشۡرِكُونَ ٥٩

وواېه: ټوله ستاینه ده د الله تعالی ذات ته( چې مؤمنانو ته عزت او کافرانو ته ذلت ورکوی) او سلام دې وی، په هغو شخصیتونو چې الله تعالی ورته( په ټولو مخلوقاتو) امتیاز او برتری ورکړې، آیا الله تعالی غوره دی که هغه بتان چې( کافران یې) له الله تعالی سره( په ربوبیت او قدرت کې) شریک ګڼی؟( بیشکه چې الله تعالی غوره دی).

أَمَّنْ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَأَنزَلَ لَكُم مِّنَ السَّمَاءِ مَاءً
فَأَنبَتْنَا بِهِ حَدَائِقَ ذَاتَ بَهْجَةٍ مَّا كَانَ لَكُمْ أَن تُنبِتُوا
شَجَرَهَا ۗ أَإِلَٰهٌ مَّعَ اللَّهِ ۚ بَلْ هُمْ قَوْمٌ يَعْدِلُونَ ﴿٦٠﴾

(آیا ستاسو باطل معبودان غوره دی) که د ( الله تعالی ذات ) چې آسمانونه او ځمکه یې پیدا کړی، او ستاسو لپاره یې له آسمانه اوبه نازلې کړی، او د هغو په وسیله یې ګڼ ګور او سرسبزه باغونه آباد کړی، چې حتی د ونو راټوکول او زرغونول یې هم ستاسو له وسه پوره نه دی. نو آیا د الله تعالی په مقابل کې بل خدای شته؟( بلکه هیڅکله نشته) خو تاسو د توحید له مسیر نه منحرف شوی یاست.

أَمَّن جَعَلَ الْأَرْضَ قَرَارًا وَجَعَلَ خِلَالَهَا أَنْهَارًا وَجَعَلَ لَهَا رَوَاسِيَ
وَجَعَلَ بَيْنَ الْبَحْرَيْنِ حَاجِزًا ۗ أَإِلَٰهٌ مَّعَ اللَّهِ ۚ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا
يَعْلَمُونَ ﴿٦١﴾

(آیا ستاسو باطل خدایان ښه دی) که( الله تعالی)؟ هغه ذات چې ځمکه یې( د انسانانو او حیواناتو لپاره) د آرام او استراحت دمه ځای جوړ کړ، او په هغې کې یې سیندونه او رودونه روان کړل او غرونه یې پکې( د میخونو په شان) ټکوهل،( تر څو له خپل مسیر نه بې ځایه نشی او تاسو ورباندې آرام ژوند وکړی)او د دوو( خوږو او تروو اوبو) د سیندونو ترمنځ یې حایل جوړ کړ( تر څو دواړه سره ګډې او مخلوط نشی) آیا له الله تعالی سره بل خدای( په ربوبیت کې شریک) شته؟( بیشکه چې نشته) بلکه دغه مشرکین د جهالت او ناپوهۍ په کنده سر دی.

أَمَّن يُجِيبُ الْمُضْطَرَّ إِذَا دَعَاهُ وَيَكْشِفُ السُّوءَ وَيَجْعَلُكُمْ
خُلَفَاءَ الْأَرْضِ ۗ أَإِلَٰهٌ مَّعَ اللَّهِ ۚ قَلِيلًا مَّا تَذَكَّرُونَ ﴿٦٢﴾

(آیا دغه ستاسو بتان ښه دی) که هغه( الله تعالی) چې د هر دردیدلی او کړیدلی(انسان) د اضطراب دعا او فریاد قبلوی او غم او مصیبت یې په اطمینان او خوشالی بدلوی او تاسو یې( په ځمکه کې د نورو) ځایناستی کړی؟

آیا له الله تعالی سره(په قدرت او ربوبیت کې شریک) بل خدای شته؟( بلکه نشته) نو لږ شان له عقل او پوهې نه کار واخلئ.

أَمَّن يَهْدِيكُمْ فِي ظُلُمَاتِ الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَمَن يُرْسِلُ الرِّيَاحَ بُشْرًا بَيْنَ يَدَيْ رَحْمَتِهِ ۗ أَإِلَٰهٌ مَّعَ اللَّهِ ۚ تَعَالَى اللَّهُ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿٦٣﴾

(آیا ستاسو باطل خدایان ښه دی) که هغه ذات( الله تعالی) چې د بر او بحر( بیدیا او سمندر) په تړمیو کې( د ستورو او نورو عصری وسایلو په وسیله) تاسو ته لاره درښایی؟ او څوک دی چې د رحمت له باران نه وړاندې زیری ورکوونکی بادونه راالوزوی؟ آیا له الله تعالی سره( په قدرت او ربوبیت کې شریک) بل څوک شته؟( بلکه نشته). ډیر لوړ دی د الله تعالی شان او جلال له هغو مشرکانه توصیفاتو څخه چه مشرکان یې ورته منسوبوی.

أَمَّن يَبْدَأُ الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُ وَمَن يَرْزُقُكُم مِّنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ ۗ أَإِلَٰهٌ مَّعَ اللَّهِ ۚ قُلْ هَاتُوا بُرْهَانَكُمْ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴿٦٤﴾

(آیا ستاسو تش په نامه خدایان ښه دی) که هغه ذات ( الله تعالی) چې مخلوقات پیدا کوی، او بیا یې( د پیدایښت د تکرار په توګه له مرګه وروسته) بیرته راژوندی کوی؟ او څوک دی چې تاسو ته له آسمان او ځمکې روزی درکوی؟( بلکه الله تعالی دی). آیا بل داسې خدای شته چې له الله تعالی سره( په قدرت او ربوبیت کې) شریک وی؟ ورته ووایه که رښتینی یاست نو خپل دلیل وړاندې کړئ.

قُل لَّا يَعْلَمُ مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ الْغَيْبَ إِلَّا اللَّهُ ۚ وَمَا يَشْعُرُونَ أَيَّانَ يُبْعَثُونَ ﴿٦٥﴾

ووایه: له الله تعالی نه غیر، په آسمانونو او ځمکه کې هیڅوک د غیب په چارو، نه پوهیږی او( مشرکان او باطل خدایان یې) هم په دې نه پوهیږی چې کله به راژوندی کیږی.

بَلِ ادَّارَكَ عِلْمُهُمْ فِي الْآخِرَةِ ۚ بَلْ هُمْ فِي شَكٍّ مِّنْهَا ۖ بَلْ هُم مِّنْهَا عَمُونَ ﴿٦٦﴾

بلکه د آخرت د کیفیت او حقیقت د څرنګوالی په باب د هغوی ټول فکرونه او سوچونه( او همدغه راز معاصر علمی تحقیقات او څیړنې) ناکامې شوې، بلکه په شک او تردید کې پراته دی، بلکه سترګې یې له حقیقت نه ړندې دی.

وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَءِذَا كُنَّا تُرَٰبٗا وَءَابَآؤُنَآ أَئِنَّا لَمُخۡرَجُونَ ٦٧

او کافران وایی: مونږ او پلرونه مو چې خاورې شو، آیا بیرته به راژوندی کیږو؟

لَقَدۡ وُعِدۡنَا هَٰذَا نَحۡنُ وَءَابَآؤُنَا مِن قَبۡلُ إِنۡ هَٰذَآ إِلَّآ أَسَٰطِيرُ
ٱلۡأَوَّلِينَ ٦٨

دغه ډول وعدې مونږ او پلرونو( نیکونو) ته مو ډیرې ورکړې شوی، دا ټولې محض د پخوانیو خلکو افسانې دی.

قُلۡ سِيرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَٱنظُرُواْ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلۡمُجۡرِمِينَ ٦٩

ورته ووایه: په ځمکه کې وګرځئ او په دقت سره وګورئ چې مجرمین له څه ډول( ناوړه) انجام او عاقبت سره مخامخ شوی دی.

وَلَا تَحۡزَنۡ عَلَيۡهِمۡ وَلَا تَكُن فِي ضَيۡقٖ مِّمَّا يَمۡكُرُونَ ٧٠

او( ای پیغمبره!) په دوی مه خفه کیږه( چې ستا دعوت دروغ ګڼی او مخ ترې اړوی) او په دسیسو او چلوټو یې هم خپل زړه مه تنګوه( ځکه ستا وظیفه یوازې خلکو ته د الهی پیغام ابلاغ او رسول دی او زه ستا حافظ او مرستندوی یم).

وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا ٱلۡوَعۡدُ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ٧١

او( کافران مؤمنانو ته) وایی که رښتینی یاست نو ووایئ چې دا د عذاب وعده به کله عملی کیږی؟

قُلۡ عَسَىٰٓ أَن يَكُونَ رَدِفَ لَكُم بَعۡضُ ٱلَّذِي تَسۡتَعۡجِلُونَ ٧٢

ورته ووایه: کیدی شی د هغه عذاب څه برخه چې تاسو یې په تلوار غواړئ، ستاسو په برخه شی( زیات وخت نه و تیر شوی چې قحطی او وچکالی ورباندې راغله، په بدر کی ورته له ذلت او خوارئ نه ډکه مرګ ژوبله ورسیده او د آخرت عذاب یې هم مخې ته راتلونکی دی).

وَإِنَّ رَبَّكَ لَذُو فَضۡلٍ عَلَى ٱلنَّاسِ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَهُمۡ لَا يَشۡكُرُونَ ٧٣

او یقیناً چې ستا رب په خلکو باندې د لوی فضل لوروونکی دی( چې چاته د ګناه د ارتکاب فوری جزا نه ورکوی، بلکه د توبې دروازه ورته د مرګ تر وخته خلاصه ساتی) خو زیاتره خلک یې ( د دغه لوی نعمت) شکر نه په ځای کوی.

وَإِنَّ رَبَّكَ لَيَعْلَمُ مَا تُكِنُّ صُدُورُهُمْ وَمَا يُعْلِنُونَ ﴿٧٤﴾

او بیشکه چې ستا رب د کافرانو د سینو( زړونو) په پټو اسرارو او ښکاره اعمالو ډیر ښه خبر دی.

وَمَا مِنْ غَائِبَةٍ فِي السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ إِلَّا فِي كِتَابٍ مُبِينٍ ﴿٧٥﴾

د آسمانونو او ځمکې پټ اسرار( او ستاسو ظاهری او باطنی اعمال ) ټول په روښانه کتاب( لوح محفوظ او د الله تعالی په علم) کې ثبت دی.

إِنَّ هَٰذَا الْقُرْآنَ يَقُصُّ عَلَىٰ بَنِي إِسْرَائِيلَ أَكْثَرَ الَّذِي هُمْ فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ﴿٧٦﴾

بیشکه چې دې قرآن( د عقایدو، احکامو، قصصو او روایاتو په شمول) ډیر هغه مسائل چې بنی اسرائیل پکې( د جهالت له مخې) اختلاف لری، هغوی ته تشریح کړی( او قاطعانه فیصله یې ورته اورولې ده).

وَإِنَّهُ لَهُدًى وَرَحْمَةٌ لِلْمُؤْمِنِينَ ﴿٧٧﴾

او یقیناً چې دغه( مبارک قرآن) د مؤمنانو لپاره، سراسر هدایت او رحمت دی.

إِنَّ رَبَّكَ يَقْضِي بَيْنَهُمْ بِحُكْمِهِ ۚ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْعَلِيمُ ﴿٧٨﴾

بیشکه چې ستا رب به ( د قیامت په ورځ) د هغوی د اختلافی مسائلو په باب( عادلانه او حکیمانه)فیصله وکړی،اوهغه( د خپلو احکامو په انفاذ اوتطبیق)پوره برلاسی او(په ټولو چارو او حالاتو)پوه ذات دی.

فَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ ۖ إِنَّكَ عَلَى الْحَقِّ الْمُبِينِ ﴿٧٩﴾

( نو ای زما رسوله! د دین دعوت او تبلیغ ته په پوره ثبات او استقامت دوام ورکړه او د دښمنانو د مخالفت او تکذیب پروا مه ساته) په الله تعالی پوره اعتماد او توکل کوه، ځکه ته کاملاً( د اسلام) په حقه لاره روان یې.

إِنَّكَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتَىٰ وَلَا تُسْمِعُ الصُّمَّ الدُّعَاءَ إِذَا وَلَّوْا مُدْبِرِينَ ﴿٨٠﴾

( پند او نصیحت هغو کسانو ته ګټور دی چې په مینه یې واوری او تاثیر وربانډې وکړی) خو ته خپل دعوت په هغو( مکذبینو) نشی اورولی چې( زړونه یې) هم مړه، او هم کاڼه دی( او د حق اوریدلو هیڅ اراده نه لری) او د اعتراض په عنوان درنه مخ اړوی.

وَمَآ أَنتَ بِهَٰدِي ٱلۡعُمۡيِ عَن ضَلَٰلَتِهِمۡۖ إِن تُسۡمِعُ إِلَّا مَن يُؤۡمِنُ بِـَٔايَٰتِنَا
فَهُم مُّسۡلِمُونَ ﴿٨١﴾

او هغه کسان هم د هدایت مستقیمې لارې ته راګرځولی نشې چې د بصیرت سترګې یې ړندې او د ګمراهی په کنده سر دی. بلکه ستا پند او نصیحت د هغو خلکو لپاره ګټور دی چې( الهی کلام د زړه په مینه واوری) او وربانديې ایمان راوړی.

۞وَإِذَا وَقَعَ ٱلۡقَوۡلُ عَلَيۡهِمۡ أَخۡرَجۡنَا لَهُمۡ دَآبَّةٗ مِّنَ ٱلۡأَرۡضِ تُكَلِّمُهُمۡ أَنَّ
ٱلنَّاسَ كَانُواْ بِـَٔايَٰتِنَا لَا يُوقِنُونَ ﴿٨٢﴾

او کله چې( د دنیا د اختتام وخت راورسی او لمر له لویدیځ لوری راوخیژی) او په کافرانو او مکذبینو باندې زمونږ د عذاب فیصله صادره شی، (د مکې معظمې د صفا له غره نه به) د دابة لارض( په نوم یو حیوان) راوباسو، چې له خلکو سره به خبرې کوی( او صادق مؤمن به له کاذب منکر څخه په نښه کولو سره بیلوی) هغوی چې زمونږ په آیتونو یې ایمان نه درلود( او کوم حقیقت یې چې د الهی استازو په ژبو، نه مانه، نن به یې د یوه حیوان له خولې ومنی، او د تسلیمی غاړه به ورته کیږدی خو ایمان راوړل به یې ورته هیڅ ګټه و نه لری).

وَيَوۡمَ نَحۡشُرُ مِن كُلِّ أُمَّةٖ فَوۡجٗا مِّمَّن يُكَذِّبُ بِـَٔايَٰتِنَا فَهُمۡ
يُوزَعُونَ ﴿٨٣﴾

او( یاد کړه) هغه ورځ چې مونږ به له هر امت څخه د مکذبینو( سردارانو او اشرافو) ډلې چې زمونږ له آیتونو او احکامو نه یې انکار کاوه، راپورته او د منظمو جماعتونو په شکل راټول کړو.

حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءُو قَالَ أَكَذَّبۡتُم بِـَٔايَٰتِي وَلَمۡ تُحِيطُواْ بِهَا عِلۡمًا أَمَّاذَا كُنتُمۡ
تَعۡمَلُونَ ﴿٨٤﴾

تر څو د ( حساب کتاب محشر ته) راورسی، او(الله تعالی) ورته ووایی: آیا دا تاسو واست چې بې (له غور او فکر) او بې له کوم علمی دلیل او څیړنې مو، زما آیتونه دروغ ګڼل،او له دغه( لجوجانه تکذیب) نه غیر مو، بل څه کار نه درلود؟

وَوَقَعَ ٱلۡقَوۡلُ عَلَيۡهِم بِمَا ظَلَمُواْ فَهُمۡ لَا يَنطِقُونَ ﴿٨٥﴾

او (زمونږ په آیتونو باندې) د ظلم له امله به وربانديږ، عذاب حتمی او لازمی شی، (نو د خپل عذر د وړاندې کولو لپاره به) خبره هم نشی کولی.

أَلَمۡ يَرَوۡاْ أَنَّا جَعَلۡنَا ٱلَّيۡلَ لِيَسۡكُنُواْ فِيهِ وَٱلنَّهَارَ مُبۡصِرًاۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ ﴿٨٦﴾

آيا دوی نه پوهیږی چې مونږ، شپه د دوی د آرام او استراحت لپاره پیدا کړې، او ورځ مو ورته( د کار روزګار او فعالیت لپاره) ټاکلې ده. بیشکه چې په دغو چارو کې، د ایمان راوړونکو لپاره( د الله تعالی د توحید، ربوبیت او کامل قدرت) نښانې پرتې دی.

وَيَوۡمَ يُنفَخُ فِي ٱلصُّورِ فَفَزِعَ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَن فِي ٱلۡأَرۡضِ إِلَّا مَن شَآءَ ٱللَّهُۚ وَكُلٌّ أَتَوۡهُ دَٰخِرِينَ ﴿٨٧﴾

او هغه ورځ( رایاده کړه) چې شپیلی ووهل شی او له هغه چا نه غیر چې الله تعالی (وربانديږ رحم کړی وی) د آسمانونو او ځمکې په ټولو مخلوقاتو باندې د ویرې او ترهې لرزه مسلطه شی، او خوار او ذلیل، الهی محکمې ته احضار کړی شی.

وَتَرَى ٱلۡجِبَالَ تَحۡسَبُهَا جَامِدَةٗ وَهِيَ تَمُرُّ مَرَّ ٱلسَّحَابِۚ صُنۡعَ ٱللَّهِ ٱلَّذِيٓ أَتۡقَنَ كُلَّ شَيۡءٍۚ إِنَّهُۥ خَبِيرُۢ بِمَا تَفۡعَلُونَ ﴿٨٨﴾

او غرونو ته به ګورې( او ګومان به کوې) چې پخپل ځای کلک او بې حرکته ولاړ دی، خو په حقیقت کې به د وریځو په شان روان وی. دا د الله تعالی صنعت دی، هغه ذات چې هرشی ته یې ثبات او استحکام ورکړی، او ستاسو په ټولو کړنو ډیر ښه خبر دی.

مَن جَآءَ بِٱلۡحَسَنَةِ فَلَهُۥ خَيۡرٞ مِّنۡهَا وَهُم مِّن فَزَعٖ يَوۡمَئِذٍ ءَامِنُونَ ﴿٨٩﴾

هغه کسان چې( آخرت ته) له نیکو اعمالو سره راشی، له هغو نه لا ډیر ښه اجر به تر لاسه کړی، او د هغې ورځې له ویرې او هیبت نه به په امن کې وی.

وَمَن جَآءَ بِٱلسَّيِّئَةِ فَكُبَّتۡ وُجُوهُهُمۡ فِي ٱلنَّارِ هَلۡ تُجۡزَوۡنَ إِلَّا مَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ﴿٩٠﴾

او څوک چې( د شرک او معصیت) د بدو او ناوړو اعمالو پیټی له ځان سره راوړی، پړمخې به اور ته وروغورځول شی( او ورته به وویل شی) چې دا صرف ستاسو د خپلو اعمالو نتیجه ده او بس.

إِنَّمَآ أُمِرۡتُ أَنۡ أَعۡبُدَ رَبَّ هَٰذِهِ ٱلۡبَلۡدَةِ ٱلَّذِي حَرَّمَهَا وَلَهُۥ كُلُّ
شَيۡءٖۖ وَأُمِرۡتُ أَنۡ أَكُونَ مِنَ ٱلۡمُسۡلِمِينَ ﴿٩١﴾

( ای پیغمبره! خلکو ته ووایه) ماته امر شوی چې د دې ښار( مکې) د رب عبادت وکړم، هغه ذات چې دې ښار ته یې ځانګړی تحریم( تعظیم او تکریم) ورکړی، او هر شی د هغه د مالکیت او سلطنت په قلمرو کې شامل دی، او دا هم راته امر شوی چې الهی احکامو او فرمانونو ته په کامله توګه غاړه کیږدم.

وَأَنۡ أَتۡلُوَاْ ٱلۡقُرۡءَانَۖ فَمَنِ ٱهۡتَدَىٰ فَإِنَّمَا يَهۡتَدِي لِنَفۡسِهِۦۖ وَمَن ضَلَّ فَقُلۡ
إِنَّمَآ أَنَا۠ مِنَ ٱلۡمُنذِرِينَ ﴿٩٢﴾

او(هم راته امر شوی) چې باید( نورو خلکو ته) قرآن واوروم( او د هدایت لارې ته یې دعوت کړم) نو څوک چې په سمه لار وی، ګټه یې خپله ده، او څوک چې ګمراهی غوره کړی( زیان یې هم د خپل ځان دی) نو ووایه چې زه صرف تنبیه کوونکی او اخطار ورکوونکی یم( او ستر مسؤلیت مې صرف خلکو ته الهی پیغام رسول دی).

وَقُلِ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ سَيُرِيكُمۡ ءَايَٰتِهِۦ فَتَعۡرِفُونَهَاۚ وَمَا رَبُّكَ بِغَٰفِلٍ عَمَّا
تَعۡمَلُونَ ﴿٩٣﴾

او ووایه: ټولې ستاینې الله تعالی ته ځانګړې دی ( چې زه یې د ټولو بشری پرګنو لپاره د لارښود په حیث ټاکلی یم)او زر به الله تعالی د خپل قدرت دلایل( او زما د نبوت د حقانیت او صداقت داسې ښکاره نښانې) تاسو ته در وښایی چې تاسو به یې وپیژنئ( او اعتراف به وربانده وکړئ) او ستاسو رب ستاسو له کړنو څخه هیڅکله بې خبره نه دی.

« تمت سورة النمل بفضل الله رب العالمین»

=======================